د ۷ مخ پاتې **ډاکټر کبیر ستوری ...........**

او د سوچه قام ولۍ دا ثبوت څومره د خوند دې
پښتنې مور پیو کې ځواک د قربانۍ راکړی
د قام وطن او د پښتو نه سپلنی یمه زه

د سندریز پیغام ډیر نغمی د موسیقی و اضګونو سره په ټوله پښتونخوا کې خوری شوی کومو چې د ستوری د شعور او پوهی ځلا لاپسی زیاته کړه.

د سندریز پیغام نه پس په کال ۲۰۰۴ کې د ډاکتر کبیر ستوري یوه بله شعری ټولګه د « خوږې مسری» د عنوان تر لاندی چاپ شوه خو په داسی وخت کې مخ ته راغی چې کبیر ستوري او نه لیدی شوه او د هغی د چاپ نه مخکې ئې د همیشه د پاره سترګی پټی کړی نوموړی قام پرست او ننګیالی شاعر ښاغلی رحمت شاه سایل ددی کتاب په حواله لیکی...

« زه د یو وخت نه د ډاکتر صیب شعرونه ګورم دده خیال غنی دی ځکه چې مطالیه ئې ډیره ده او د هری موضوع لپاره نغد علم لری ، »

« خوږې مسری» هم لکه د کبیر ستوری د نورو شعری ټولګو د مینې ، قام پرستې او اولسی شعور بیدارولو رنګونه لری، دا ځکه چې د هغه ټول ژوند د پښتون قام د خدمت او دوی ته د خپل منزل او مرام په ګوته کولو د مفهوم نه اخته شوی وو ، هغه مبارزوو ، او چونکی په بنیادی توګه د ساه پوهنې ماهر دوکتور وو ، نو د خپل قام د فکر مکمله ترجمانې ئې کړیده ، د هغه په ساه پوهنه لیکلی ټول کتابونه چې ورکې « خوب مانا » او نور یو شمیر شامل دی د پښتو ژبې په لمن کې ډیره ګټه وره اضافه ده، ستوري پښتو ته ژوند وروبخلو.... او پښتون قام هغه ته په مرګی او ژوند دواړو احترام ورکړو راتلونکی وختونه به د خدای بخلی کبیر ستوري د عظمت نوره ګواهی کې .. هغه د یو شاعر سره سره یو ښه او مینه ناک انسان هم وو .. هغه اوس زمونږ د ټولو دی ... د هغه افکار د پښتنو د لاری مشالونه دي .. چې د « وحدت» د لارې لټون پری کیدی شی ، زه به خپله دغه لیکنه په دی شعرونو راټوله کړم چې

هاغه د ژوند د رڼاګانو د اسمان ستوری
هاغه د مینی محبت د دبستان ستوری
هغه په خپلو مینه والو باندی ګران ستوری
د یو پښتون د خیال او فکرنه وتلی نه شی
دا حقیقت دی چې له چا نه هیریدلی نه شی

پېښور
۲ جنوری ۲۰۰۹ ع